# ډیموکراسي او حکومت کول

سیاسي مشران چې کوم نظر په مخ بیایي او کوم سیستم او ارزښت چې دوی د یو هېواد د چلولو لپاره مینځ ته راولي هغه د امن او پر مختګ د ظلم په مخ نیولو یا د یوې شخړې مینځ ته راوړلو کې ډېر مهم رول لوبوي. که څه هم ډېر څه په خطر کې وي خو د امن دخبرو اترو په مهال د ځواک ترلاسه کولو او د حکومت د کنټرولولو بیلا بېلو لارو لپاره ډېره زیاته مسابقه کېږي. داسې هېوادونه چې د ډیموکراسي لږه یا هیڅ تجربه نه لري دوی د ډېرو زیاتو ستونزو سره مخ وي. خو د شخړې د اوارېدو نه وروسته چاپېریال هېوادونو ته دا فرصت برابروي چې د حکومت نوی جوړښت او د ښه حکومت کولو سیستم جوړ کړي. په داسې حالاتو کې چې نړېوالې ټولنې د دولت د ودانولو کار په سر اخیستی دي نو د دوی موسسې د ډیموکراسي او حکومت کولو په اړوند د معاملو ځینې مسوولیت پر غاړه اخلي. کله کله دا هغه مهال وي چې نړېواله مرسته ترلاسه کېدای شي او د مدني ټولنې ګډون په کې تشویقېږي. دا د ښځو د پاره هم د فرصت وخت وي. د بین الپارلېماني اتحادیې ترمخه په تېرو پنځو کلونو کې په ټوله نړۍ کې د شخړې نه وروسته هېوادونو د بین الپارلېماني اتحادیې ده ۳ لوړو هېوادونو په صف کې څرګنده ښه ترلاسه کړې ده چېرته چې قومي پارلمان کې د ښځو ګډون خوندي دی. په ځانګړې توګه دا هېوادونه په نویو جوړ شوو موسسو کې د ښځو ګډون او موجودیت داډمنولو لپاره په اغېزمن ډول ټاکل شوې څوکې او سهمیه په کار اچوي.

## حکومت کول څه ته وایي.؟

د حکومت اصطلاح د پریکړو او تصمیم نیولو پروسې عملي او هغه لارې چارې چې د هدفو په وسیله پرېکړې او تصمیمونه تطبیق او یا نه تطبیق کیږي. په هر ورکړل شوي سیستم کې حکومت یو غټ اکټ کوونکی دی خو نور هم کولای شي په پروسه اغېزه وکړي. غیر دولتي اکټ کوونکي لکه مذهبی یا قبایلي مشران مدني ټولنه، د ځمکې لویې مالکان، تجارتي اتحادیې، مالي موسسې، عسکري او ټولنیزې ډلې کولای شي په دې هکله مهم رول ولوبوي.

د حکومت کولو یو ښه سیستم خصوصیت په لاندې ډول په نښه شویدی.

-  برخې اخیستنې – ډېر وګړي / ښاریان تشویقول چې په پرېکړو کې برخه واخلی.
- د موافقې ښه لرونکي- د بشپړ موافقې پر بنسټ د پرېکړو ترلاسه کولو هڅه کول .
- شفاف – د پرېکړو کولو پروسه باید کره کتنې ته خلاصه وي.
- ځواب ورکوونکی – د ښاریانو اړتیاوې اورېدل او ځواب ورکول.
- اغېزمن او پوره - د بنیادي خدمتونو برابرول، او .
- عادلانه او شامل – د نفوس هغه ډلې چې د خطر سره زیاتې مخ وي یا چې حاشیه شوي وي د نظر نه ایستل.

داسې ډېرې څو او دوه اړخیزه موسسې شته چې د شخړې نه وروسته او د پرمختګ په لور روانو هېوادونو کې چې دوی ورته " ښه حکومت کول " وایي پر مخ بیا یي.
هره یوه د دې موسسو څخه " ښه حکومت کول " په جلا ډول تعریفوي او هر یو خپل شاخصونه جوړ کړیدي. چې د هغو له لارې د" ښه حکومت کول" په مخ بیول ارزیابي کوي. د مثال په توګه نړېوال بانک د ښه حکومت کولو شپږ شاخصونه اوځانګړتیاوی په نښه کړي دي. چې هېوادونو سره مرسته وکړای شي کمزورې ساحې په نښه کړي او ظرفیت اود مرستې کړنلارې اغېزمنې کړي.
دغه شاخصونه او ځانګړتیاوی دا دي.

- غږ او احتساب
- سیاسي ثبات او د تېري نشتوالی
- د حکومت موثریت اغیزمنتوب
- د سمولو خاصیت
- د قانون حکمراني او
- د فساد کنترول

عاملین ښه حکومت د دوامداره سولې منځته راوړلو او د ډیرې پراختیا او پرمختګ د ښه حکومت کولو په لور پر مختګ د مرستې د لاس ته راوړلو وسیله ګڼل کیږي.
که هرڅو د " ښه حکومت کولو" تعریفونه او شاخصونه توپیر لري بیا هم زیاتره موسسې پدې موافقه لري چې په اساسي توګه په " ښه حکومت کولو " کې ډیموکراسي په لور، د تمرکز څخه ایستل، د آزاد او منصفانه ټولټاکنو پېژندګلوي، په ګډه سیاست، د یوې خپلواکې مدنې ټولنې جوړول ازاد او خپلواک مطبوعات تضمین او د قانون د واکمنې درنښت شامل دي. د هره یوه موضوع د نورو موضوعګانو په ګډون په لاندې ډول څېړل شوي دی.

2. د ښه حکومت کولو بنیادي جزونه څه دي؟

هغه هېوادونه چې د امن په پروسه کې شامل دي د مباحثې مهمه برخه د ښه حکومت کولو په اړوند پوښتو باندې معرفي کیږي، په اساسي توګه د ډیموکراسی د جوړولو غوښتنې، چې په کې د ټولټاکنې او د انتقال وخت شامل دي په نښه کوي.

په نورو مربوطو عناصرو کې د سیاسي ګډون په ماهیت د ټاکنو په سیستم د شفافیت او د څواکونو د جلا په معاملو کولو خبرې اترې شاملې دي څنګه چې لاندې مباحثې شوې دي.

ډیموکراسي منځته راوړل
ډیموکراسي دحکومت یو سیستم دی چې په ولس (نفوس) د څواک څښتن وي او دغه څواک د ولس د نمایندګانو له لارې تمرینیږي چې دوی په یو ازاد او منصفانه ټولټاکنو کې ځان ته ټاکلي وي. خو د ډیموکراسي معنی یواځې د اکثریت د واکمنې نه ده. په ډیموکراسي کې د اقلیت د بشري حقونو خوندي کول او د څوځلیز یا اکثریت د رایې او فکر درنښت هم شامل دی په ډیمو کراسي کې ولس د ښاریانو حقونه لري خو دوی د حکومت د چلولو په سیستم کې د ګډون مسوولیتونه هم لري.
په ټوله نړۍ کې د ډیموکراسي ګڼ شمېره بڼې دي.(د مثال په توګه انتخابي، مشورتي) او د " ډیموکراسي په اړوند یو برابر کچه " په هکله رواني مباحثې.
هغه پروسه چې یو هېواد د نور زیات ډیموکراټیک کېدو لپاره په کار اچولې وي هغې ته " ډیموکراسي جوړول" ویل کیږي.
لپاره د دې چې یو هېواد ریښتوني ډیموکرات شي، ټول ښاریان – ښځې او نارینه – باید د حکومت د چلولو په پروسه کې په بشپړ توګه د ګډون قدرت ترلاسه کړي. (د ښاریانو، رایې ورکوونکو، وکیلانو، مدني خدمتګارانو قاضیانو، د ټاکل شوو مامورینو په څېر)

ازادي او منصفانه ټولټاکنې
ټولټاکنه یوه کړنلاره ده د چې د یو هېواد تبعه خپل نمایندګان او مشران ټاکي واک او قدرت ورسپاري. ټولټاکنې باید وشي چې ټاکل شوي مامورین ولس ته د احتساب د پاره ورانډې شي.
که چېرته دوی خپل مسولیتونه نه وي ترسره کړي نو ولس کولای شي دوی ته په راتلونکې ټولټاکنو کې رایه ورنه کړي او د دفتر څخه یې وباسي، ټولټاکنې باید د اساسي قانون یا بنیادی قانون ترمخه په خپل ټاکل شوي د ریښتینو ټولټاکنو لپاره ضروري ده چې.

- عمومي - د یو هېواد هر تبعه د جنس، نژاد، ژبې مذهب یا سیاسي تړون په بنسټ د څه تبعیض نه پرته باید دا حق ولری. چې رایه ورکړي یا وټاکل شي.
- برابر – د هرې رایې ارزښت باید یو شان وي.
- پټ – رایه ورکونه باید پټه وي ترڅو ښاریان وکړای شي پرته له څه وېرې ګډون وکړي. یواځې باید رایه ورکوونکي ته معلومه وي چې چاته رایه ورکوي.
- مستقیم – باید رایه ورکوونکي پرته د کوم منځګړي د خپل مشر د ټاکلو وړتیا ولري.
- پراخه ټاکنه – باید رایه ورکوونکی دا موقع ولري چې په ګڼ شمېره کاندیدانو کې یو وټاکي.

لومړی پخپله حکومت کوونکی هېواد چې ۱۸۹۳ کې چې اول ځل ښځو ته په ټولټاکنو کې د رایې ورکولو حق ورکړنیوزلنډ وو. . په کویټ کې نن په( ۲۰۰٤) هم ښځو ته د رایه ورکولو حق نشته.

### د تمرکز څخه ایستل
په زیاتېدونکې توګه د نړۍ په ډېرو برخو کې د ډیموکراسي جوړولو مهم جز د تمرکز څخه ایستل دي. د تمرکز څخه ایستل د مرکزي حکومت څخه ولایتي اومحلي سطحې ته د واک او قوې د انتقالولو پروسه ده.
هېوادونه د ګڼ شمېره علتونو لامله د تمرکز څخه ایستل تعقیبوي چې د مرکزي حکومت د نفوسو د اړتیاوو سره سم نور زیات رسونکي او ځواب ورنکي جوړلو دي. او یا د بسپنه ورکوونکو فشار ته چې د مرکزي حکومت بودیجه "کم کچه" کړي ته ځواب ورکړي.
د تمرکز څخه ایستل په دې مفکوره اساس ده چې د ستونزو د اوارولو له پاره دحکومت راز راز سطحې بېلا بېل تخصص او وړتیاوې لري د مثال په توګه ملي دفاع او د پولې سیاست په قومي کچه په ډېره څرګنده توګه ټاکل شوي دي. خو

اکثره د ښوونځيو، د محلي پوليس ساتنې او د ځينې عامه خدمتونو په اړوند پاليسۍ په سيمه ايزه کچه د ټولنې په ګډون په ښه ډول ترسره کيږي. خو بيا هم د تمرکز ځخه د ايستلو کره کتونکي او ګوته نيونکی دا تور لګوی چې دا د امن د جوړولو او بشري امنيت په پلمه د دولت برخې کمزورې کوي چې ټينګولو ته اړتيا لري.

د تمرکز ځخه ايستل په درې ډوله دي. سياسي، اداری او مالي. د سياست په عدم مرکزيت په سيمه ايزه کچه د مشرانو ټاکل شامل دي. د اداري عدم مرکزيت کې سيستم هغه وخت پيښيږي کله چې ځينې وخت دحکومت پريکړې کول سيمه ايزه کچه برابريږي. او د تمرکز ځخه د مالي د ويستلو معنا دا ده چې قومي حکومت د مالي راټولولو کې د مرکزي حکومت مامورين د محلی مامورينو سره مسوليت شريکوي.

د تمرکز ځخه د ايستلو په عمليو کې اکثره په محلي کچه ټولټاکنې شاملې دي. دوی ښځو ته ډېره مهمه موقع پلاس ورکوی. چې د خپلو ټولنو په پريکړو کې ګډون وکړي.

په راواندا ۲۰۰۱ کې د سيکټر او ولسوالۍ په کچه ټولټاکنو کې د " درې ځليز رايې ورکول" ځانګړی تخنيک په کار واچول شو چې په پای کې ښځو د ولسوالۍ د شورا ۲۷ فيصده چوکۍ ترلاسه کړې، په دغو ټولټاکنو کې هريو رايې ورکوونکي يو عمومي کانديد، يو ښځينه کانديد او يو د ځوانانو کانديد انتخاب کړل.

دې سيستم نه يوازې دا چې د ښځو او ځوانانو له پاره چوکۍ بېلې کړې بلکه د ټولو رايې ورکوونکو ځخه يې ښځو ته د رايې ورکولو غوښتنه هم وکړه. په دغه طريقه د روانده دتمرکز ځخه د ايستلو پروګرام وکړای شول چې په زيات ټولنيز قبول شوي ډول ښځو ټاکنې پيل کړي.

برخې اخيستونکی سياست او سياسي ګوندونه

د شرکت سياست مفکوره دا معنا لري چې په سياست او پاليسيو جوړولو کې ټول ښاريان ګډون وکړي. دا د حکومت او ټولنې ترمينځه تعلق ته اړتيا لري چې په کې د ښاريانو ګډون او ګڼ شمېره فکرونه تشويقيږي. دې سره د سياسي ګوندونو په پياوړي کولو د حاشيه کړای شويو ډلو د ګډون تشويقولو لکه د ښځو او ځوانانو او د مدني ټولنې په پياوړتيا (لاندې تشريح شوی دی) مرسته کېدای شي.

د سياسي فکرونو يوځای کول او د هغې ځرګندونه د ډيموکراسي جوړولو او د ښه حکومت کولو مهم اصول دي. سياسي ګوندونه د يو ډيموکراټيک سياسي سيستم بنسټيزه تيږه ده. سياسي ګوندونه انتقاد کوونکي وي ځکه يې دوی د يوشان عقيدو او علايقو په اړوند د خلکو د ګډون جوړښت برابروي.

د يوځای کېدو له لارې هغه وګړي چې څه اثر يې نه درلود کولای شي په سياسي پروسه کې د سياسي ګوندونو سره د مرستې له لارې خپل غږ پورته کړي. سياسي ګوندونه مشران هم سمبالوي په داسې چاپېريال کې چېرته چې هغه کولای شي هغه هنر ترلاسه کړي چې د ټولنې د جوړولو له پاره ضروري وي. يوه ډيموکراسي بايد د يو نه زيات وده کوونکی ګوندونه ولري ترڅو غټ کوندونه وکړای شي په حکومت خيته وا نه چوي او د رايه

ورکوونکي خوښه هم ترلاسه کړي. د سيستم ته څوګونديز ويل کيږي. په سياسي ګوندونو کې غړيتوب بايد په خپله خوښه وي.

د ښځو له پاره به دا ګرانه وي چې سياسي ګوندونو کې ځای ترلاسه کړي او دکانديد په حيث غوره کړای شي. ځکه چې په زياتره هېوادونو کې ګوندونه د ګوند ليکل شويو اصولو يا د شفافې کړنلارې ترمخه چليږي يا عملي کيږي، د پراختيا دغه ډول نشتوالی د حمايت سيستم او د "زړو هلکانود کاری جالی" ته د ودې ورکولو اجازه ورکوي ترڅو ښځې د پرېکړه کولو د منصب او کانديد جدول ځخه په اغېزناکه توګه وباسي.

په ځينې هېوادونو کې د ښځو کانديدانو يو خاص شمېر ډاډمنولو له پاره سياسي ګوندونه د ښځو د ګډون له پاره داخلي quotas په کار اچوي.

لکه د ارجنټاين، بوتسوانه، او فرانس غوندې بېلابېل هېوادونو د ښځو له پاره د مدافعې ستراتيژي دا داه چې د يو ګوند منشور ډاډمنولو له پاره د سياسي ګوندونو سره کار وکړي. دا منشور د هغه اصولو او وضعو يو رسمي اعلان نامه ده چې ګوند يې ملاتړ کوي او د ښځو په اړوند مهمو معاملو باندې خپل مقام تشريح کوي.

د ښځو سياسي ګډون ۱۰

ښځې په ټوله نړۍ کې د يو شمېر علتونوپه شمول د ټولنې د تبعيضي کړو وړو ، د پوهنې نشتوالي او تياری او د دوی په ډيموکراټيک ګډون باندې د رغښت د خنډ له امله د حکومت کولو جوړښت او انتخابي دفتر کې ډېره کمه نمايندګي لري. ځانګړې ننګونې او ځينې طريقې چې دوی پرې قابو موندلی شي. لاندې فهرست شوي دي

د رايه ورکوونکو ثبتول او رايه ورکول

په يو ډيموکراټيک سيستم کې په ټولټاکنه کې د ښځو ګډون په رايه ورکولو کې د ښاريانو په ځبر د دوی د حقوقو مهمه ځرګندونه ده. که څه هم رايه ورکولو حق يې په رسمي توګه رد شوی نه دی خو بيا هم د رايه ورکوونکو په حيث د ښځو ګډون په لار کې غټ غټ خنډونه شته د مثال په توګه د رايې ثبتول، د هويت او د ښاريتوب سند ترلاسه کول په عمومي توګه ضروري وي. دا

په کمبوډيا کې د ګنو ګوندونو د هوساينې له پاره د ښځو کارکول

په کامبوډيا کې حکومت چلونه د سياسي تېرې او ډار ښه لري. دا ځکه چې دلته د يو ګوند حاکميت دی. کامبوډين پيليز ګوند- د ګنو ګوندونو ترمينځ د همکاری نشتوالی. د يو ګوند دغه ډول حاکميت ګوندونو کې د جنس په اړوند د معاملو مخ په وړاندې په بيولو کې او په خصوصي توګه په قومي کچه د ښځو د ګډون له پاره منفي پای منځ ته راوړې.

د لارې د ګوندونو ترمينځ د پلونو جوړولو په کار کې ترټولو NGOsسره ددې چې د کموډيا ښځې د ګواښ او ځورولو سره مخ دي بيا هم دوی د
په هغه جبه کې ترټولو اغېزمنه موسسه ده. (WFP)وړاندې وي. ښځې له پاره د هوساينې

یو داسې کړنلاره پیل کړې ده چې نه یواځې دا چې په سیاست کې د ښځو د ګډون وړتیاوې تشویقوي بلکه په WFPدا د پوک نادا په مشرۍ کار کوي. ولسي کچه د ګوندونو ترمنځه توپیرونه هم د مینځه وړلو هڅه کوي.
پرته د نظریې هغه ننګونې چې ښځې ورسره په WFPد دوی په شبکه کې د ټولواړخونو د شورا غړې ښځې دي په شمول د دریو غټو ګوندونو سیاست کې مخ دي په نظر یې نیسي او ورته روزنه ورکوي ترڅو د وخت سره د دوی هنرونه ترلاسه کړي د ۲۰۰۰ د دولس د شورا د ټولټاکنې له کاندیدو سره ملاتړ وکړ. چې ورته ولس په وړاندې د خبرو کولو کې لارښوونه وړاندې کوي. په تقریر لیکلو کې د رایې WFP 5,527پاره ورکوونکو له اړخه د پوښتنو ځواب ورکولو او د هغه ننګونو کې په سیاست کې ګډون وکړي.
په قومي کچه د خپلې شبکې رسمي کولو د پلانو سره د ښځو د ګډون له پاره نوې سیاسي میدان خلاص کړی دی. دوی د ګوندونو ترمنځ:ه د همکارۍ یو اغیزمن ماډل سمبالوي چې په لوړه سیاسي کچه محدودیت لري.

د هغو ښځو له پاره ډېره ګرانه وي چې په خپل نوم سندونه نه لري یا په ځانګړې توګه د شخړې په حالتونو کې، یا هغه ښځې چې په داخلي توګه بې ځایه شوي وي یا د خپل هېواد څخه تښتېدلي وي او خپل سندونه یې له لاسه وکړي وي. اکثره د رایې ورکولو له پاره ځایونه ډېر لرې وي او د ښځو د تلو راتلو له پاره هېڅ ټرانسپورټ نه وي یا د دود او دستور له مخې د ښځو په تګ بندیز لګېدلی وي، د کارکوونکو ښځو یا د ماشومانو د پام لرنې مسوولیت لرونکو ښځو له پاره د رایې ورکولو ساعتونه هم ډېر ستونزمن وي.
یوه بله د پام وړ ستونزه د "کورنۍ رایه ورکوونکو" ده. چې د هغو ښځو سره پېښېږي څوک چې د خپلې کورنۍ مشر د رایه ورکولو تر کوټې پورې بوځي او د هغوی په رایه ورکولو اغېزه کوي.
په ځینې هېوادونو کې دا یوه لویه ستونزه ده او په یو ازاد او منصفانه ټولټاکنه کې د ښځو د رایه ورکولو د حق نه یوه څرګنده سرغړونه ده.
د ټولټاکنې کمیسیون باید په خپله ډکه کې ښځې او د جنس په اړوند- حساس سړي ور تګ او داسې سلوک غوره کړی چه د مېرمنو سره تبعیض نه کوي که ښځې د هویت رسمي سندونه نه لري نو د دوی د رایه ورکوونکي په هویت او وړتیا باید د کلي یا د ټولنې دکوم بل چانه تصدیق وشي.
د ټولټاکنو نړیوال مبصرین باید د جنس په اړوند د حساسیت روزنه ترلاسه کړي ترڅو وکړای شي هغه ننګونې په نظر کې ونیسي او له مینځه یې یوسي چې ښځې ورسره د رایې ورکوونکو په حیث مخ دي.
د ټولټاکنې په ورځ باید رخصتي وي. یا د رایې ورکولو ځایونه باید ناوخته پورې خلاص وي او باید مرکزي موقعیتونو سره نژدې یا په مرکز کې وي (لکه ښوونځي مسجدونه، کلیسا،) چې د ټولو خلکو رسیدل اسان وی. . د هغو رایې ورکوونکو له پاره چې نالوستي وي (زیاتره شمېره یې د ښځو ده) د رایې ورکولو کاغذ باید عکس او د ګوند نښه ولري.

## د رایه ورکوونکو پوهنه

د رایه ورکوونکو په پوهنه کې د داسې موضوعګانو لکه د رایې ورکولو میخانیک شامل دي. (د مثال په توګه دا چې رایه ورکول باید په پټه وشي) او چې رایه ورکوونکي د ټولټاکنو د مامورینو احتساب کوي.
ښځې په خصوصي توګه د کلیو ښځې د سړو په پرتله د رایې ورکولو د پوهنې سرچینو ته ډېر لږ لاسرسی لري. یا دا چې رایې ورکولو ته چمتو کړای شي. په ۱۹۹٤ کې د جنوبی افریقې د لومړي ډیموکراټیکو ټولټاکنو له پاره یوه بریالۍ پروژه کې ښځو رایې ورکوونکو ته رسېدو له پاره ښځې د روزلو په کار واچولې او د جنس- د بېلتون روزنې سره ترڅو پرته د سړو د مداخلې او مزاحمت څخه ښځې وکړای شي د خپلو ستونزو په اړوند پوښتنې او سوالونه وکړي.

## مدني پوهنه

د مدني پوهنې پروګرامونه او کړنلارې ښاریانو لپاره یو فرصت دی چې د موضوع په هکله زده کړه وکړی او پام وړی د مثال په توګه د هغوی د حقونو او مسئولیتونو، ډیموکراټیک اصولو، د اساسي قانون او ښه مشرتابه په هکله د روزولو او پوهېدلو فرصتونه برابروي.
مدني پوهنه د رایې ورکوونکې د پوهنې په پرتله اوږدمهاله او پراخه پروسه ده. دا باید په ښوونځیو او ټولنو کې د ټولټاکنو د کېدو څخه ډېر وړاندې پیل شي. او تر هغو وروسته هم مدني پوهنه په دې فکر اساس لري چې باید دوام ومومی ډیموکراسي د یو باخبره او انتقادکوونکي نفوس بریالیتوب لپاره اړتیا لري. مدني پوهنه داسې فرصت هم سمبالوي چې د داسې رویو او تعقیبونو مخ نیوی وکړي چې د هېواد په چلولو کې د ښځو د ګډون لارې بندوي.

## د کامپاین له پاره پیسې راغونډول

په هر هېواد کې د سیاسي دفتر له پاره کامپاین یو قیمتي او وخت مصرفوونکی کار دی. د پیل لګښتونو کې د یوی عریضی، د دفتر جوړول، نوم پېژندنه، د ګوند نومول ترلاسه کول. د اعلانونو مصرف، رایې ورکوونکو ته رسېدل، او تردې چې په ټولټاکنه کې برخې اخیستلو له پاره د پیسو ورکول هم شامل دي. ګڼ شمېر طریقې شته چې دولت او سیاسي ګوندونه یې په مخبیایي. په ځینې هېوادونو کې ګوندونه د کامپاین له پاره لږ وخت لری چې د میډیا ته او اشتهارونو کې د څرګندونو کومه اجازه ورکړل شوې وي هغه په قانوني توګه محدودوي. د ښځو کاندیدانو له پاره- په ځانګړی توګه چې د لومړي ځل لپاره یې دفتر رایستلی وی.
دوی له پاره به د بودجې پیدا کول یو مشکل او ستونزمن کار وی بیا په ځانګړی توګه هغه وخت چې د یو نارینه سره مسابقه لري.
بیا به هم ځینې خنډان اساسي شبکو او ناحیو ته د ورننوتو له لارې د منځه یوورلی شي.
په شمالي ایرلینډ کې د شمالي ایرلینډ د ښځو اتحادیې(NIWC) د خپل شپږ- اوونیز کامپاین له پاره به پیل کې هیڅ پیسې نه درلودی خو غړو په خپله پیسې ونډه کړې او د دوی شبکې د کمپاین په اړوند مواد یې په خپلو کورونو کې جوړ کړل (د کلک کاغذ د صندقونه او کور نور شیان په کار اچول).

انتخابي سیستم: په نړۍ کې راز راز انتخابي سیستمونه شته. ترټولو عام دوه – متناسب نمایندګي او اکثریتي سیستمونه دا

استعداد لري چې د ښځو کانديدانو له پاره مختلفې نتيجې منځته راوړي.

## نسبي نمايندګي په سيستم (PR)کې

چوکۍ د ګوندونو ترمينځه د دوی د ترلاسه کړل شويو رايو د فيصدي په بنياد تقسيمېږي. (او چوکۍ د سياسي ګوندونو د فهرست څخه ډکېږي) په هر څو غړيو ولسواليو کې د يو څخه زيات مامورين ټاکل کېږي. د ټولټاکنو نسبتی سيستم د ښځو د دوست سيستم په څير هم پېژندل کېږي ځکه چې د څو غړيو ولسوالۍ ښځو ته د ټاکلو زيات فرصتونه په لاس ورکوی، چې څومره زياتې چوکۍ وي هومره د ښځو د ټاکل کېدو اندازه زياتيږي.
په پارلېمان کې د ښځو نمايندګي د لوړی اندازی د ۱۵ هېوادونو څخه ۱۳ هغه هېوادونه دی چې د ټولټاکنو نسبی سيستم لری. د ۱۵ هېوادونه ديارلس هغه دي چې PR سيستم په کې کارېږي.
ددې سيستم په اړوند کومه عامه ستونزه چې مخ ته راځي داده چې اکثره سياسي ګوندونه د حکومت د چلولو له پاره په زړه پورې چوکۍ ترلاسه کولو کې ناکامه کېږي او ګوندونه مجبور شي چې ائتلافي حکومت جوړ کړي. دا کار کيدای شي چې لويې او بې کابو ائتلافونه مينځ ته راوړي چې د حکومت چلول ګرانېږي خو دا د قوت په څېر هم کېدای شي داېمن وي ځکه دا په ائتلافي حکومت کې د زياتو ډلو نمايندګي په نسبی سيستم کې څېرنه دا ښيي چې بند ليستونه (چېرته چې رايې ورکوونکې يواځې د ګوند سره د ارتباط په بنسټ ټاکنه کوي) اکثر په پرتله کې د ګټلو په ځايونو کېښودل کېږي.
د خلاص فهرست په سيستم کې رايې ورکوونکي په فهرست کې ورکړل شوې کانديدانو کې چاته د رايې ورکولو وړتيا لري. چې د پام وړ خبره ده. ځکه چې کله کله رايې ورکوونکي قصداً او عمداً ښځو ته رايې ورکولو نه سرغړوي. بند فهرستونه د ښځو له پاره په ځانګړې توګه ډېر اغېزمن وي که سياسي ګوندونه دوی ته د ګوند د فهرست په سر کښې ځای ورکړی يا يې د zebra کې د سړو سره پرله پسې کړي (هره دويمه ليکه کې به يوه ښځه وي) يا د zipper پشان فهرست کې ځای کړي. په جنوبې افريقا کې افريقا ملی نيشنل کانګريس د ګوند په فهرست کې مېرمنو ته د هر دريم کانديد په څير ځای ورکړی دی چې په دې ډول مېرمن ۳۲ فيصده چوکۍ په لاس راوړي دي.
په اکثريتي سيستم کې يوازی يو تن مامور د هری ولسوالی نمايندګي کوي او چې کوم سړی ترټولو زياتې رايې ترلاسه کړې هغه چوکۍ ګټي. دا دې ښځو له پاره چې ټولټاکنو کې برياليتوب غواړي ډېر ستونزمن سيستم دی. په متحده اياالاتونو کې کانګريس چې اکثريتي سيستم چلوی ښځې يوازی ۱٤ په سلو کې چوکې نيسي.

## د انتخابي تنظيم اداري

ډېر هېوادونه د ټولټاکنو د تنظيمولو لپاره اداري لري (EMPs) چې د ولس باور او په انتخابي پروسو کې د هغوی ګډون زياتوالی په نظر کې نيسي. د ټولټاکنو د تنظيم اداری راز راز قيموميتونه لري خو د هغو څخه اساسي فعاليتونه دا دي.

- د سياسي ګوندونو مالي معاملو کې شفافيت ډاډمنول او پر مخ بيول.
- د انتخاباتو/ ټولټاکنو قانون بياکتنه او د ښو کړو وړو پر مخ بېونه.
- په ټولټاکنو کې د ولس زيات ګډون تشويقول او په ډيموکراټيکو پروسو او اصولو باندې پوهېدل.
- په دې ډاډمنول چې په دواړو منطقوی او سيکتور برخو کې انډول شته يا په بل عبارت چې د کليو نو تشخص او ګټې په نظر کې نيول شوی دي.

د ټولټاکنو د تنظيم اداري کولای شي د هغه خنډانو د نښه کولو له لارې چې په ټولټاکنه کې د ښځو د ګډون مخ نيوی کوي د جنس په اړوند يو مهم رول ولوبوي، او په لرې ځايونو کې د رايې ورکوونکو د پوهولو پروګرامونه پوهنې کړنلارې اداره کړي.

## سهميې

په انتخابي دفترونو کې د ښځو نمايندګي ډاډمنولو له پاره تر ټولو لوی تصميم خو اختلافي طريقه د سهميو په کار اچول دي کوم چې د ښځو له پاره چوکۍ پا سره کوي. ځينې خلک داسې فکر کوي چې سهميې يو بې انصافه او غير ډيموکراټيک شی دی ځکه دوی غواړي چې رايې ورکوونکي په خپله د خپلې خوښې خلک وټاکي نه داچې په کومه بله لارې وټاکل شي .
ځينې خلک دا وېره هم لري چې که د سهميې له لارې ښځې انتخابي دفتر ترلاسه کړي نو د دوی به دومره درنښت نه کېږي ځکه چې دوی د خپل ښه والي لامله نه بلکه د خپل جنس له امله بل پل ډېر خلک سهميې خوښوي ځکه چې هغه تاريخي دودونه تصحيح کوي او موجود خنډان له منځه وړي.
سهميه کولای شي دا هم ډاډمن کړي چې ښځې د مقننه هيات زياتره څوکې ترلاسه کړي ترڅو يوه ښځه د يو جلا شوي استازي په حيث په نښه نه شي.
په بنيادي توګه هغه څوک چې چې د برخې سيستم خوښوی ځکه چې دوی فکر کوي چې د ډيموکراټيک حکومت چلولو له پاره د ښځو ګډون ارزښتناک او ضروري وی
او راز راز سهميې شته: هغه چې د اساسي قانون له مخه تائيد شوي وي، هغه چې پارلمان قانونی شکل ورکړی او هغه چې اساسي ګوندونو دننه غور کړيدی په يوګندا کې د هرې ولسی جرګې د ولسوالی څخه يوه څوکۍ بايد يوې ميرمن نيولی وی.
دا هغه سيستم دی چې "خوندی څوکۍ" بلل کېږي
په ۲۰۰٤ عراق کې انتقالي اداري قانون سهميه خو د ښځو د ګډون له پاره يې ۲۵ % يو هدف وټاکه.
په عادي توګه سهميې په دې طمع چې هرکله ښځو پرته له دې نه يو عادلانه نمايندګي ترلاسه کړی شی نو بيا به دي سيستم ضرورت پاتې نه شي.
خو بيا هم ډېر کم داسې کېږي چې هر کله سهميې سيستم منځ ته راشي بيا يې ختمول اسان کار نه دی بلکه نور هم پياوړی شي.
يو استثنا ډنمارک دی چېرته چې سياسي ګوندونه د ښځو د نمايندګۍ له پاره سهميې سيستم درلود خو اوس هېڅ اړتيا يې ورته نشته. پرته له سهميو نه په ډنمارک کې ښځې په پارليمان کې ۳۸ په سلو کې چوکۍ لري. بل پلو له سهميې ختم کړای شي نو دا به ښځو له پاره ډېره زيانمنه وي.
دلته د بنګله دېش مثال زمونږ په وړاندې دی چې کله په ۲۰۰۱ اپرېل کې د قانون ترمخه سهميه له منځه لاړه نو د ۲۰۰۱ اکټوبر په ټولټاکنه کې په پارلېمان کې د ښځو شمېره د لس %څخه ۲ % ته راوغورځېده. د سهميو په اړوند مهمه خبره دا مينځ ته راځي چې اکثره دې ته په درنه سترګه نه کتل کېږي.
فرانسه يو ښه مثال دی؛ د قانون د مخې په پارليمان کې د ښځو نمايندګي ۵۰ په سلو کې په کار ده خو په ملي کچه د ښحو

نمایندګي ۱۲ په سلو کې ده  د ډېرو ښځو کارکوونکو له پاره چې د سهمیو په کرولو سره ښځې ټاکي دا یواځې د شخړې نیمایي برخه ده .
سهمیې دا تضمینوي چې زیات شمېر ښځې وټاکل شي خو دا تضمین نه شي ورکولی چې دغه ښځې به د جنس په اړوند حساسی  یا د ښځو مسئلو په اړوند په  ځواب ورکوونکي وي. په مدني ټولنه کې ښځې باید دومره فعاله وي چې ښځو قانون جوړوونکو ته لاسرسی ولري او د ښځو مسئلې په نظر کې نیول ډاډمنولو له پاره یو ائتلاف جوړ کړي.
دې سره ښځې کارکونوکې د یو داسې میکانیزم جوړلو ته اړتیا لري چې وکړای شي د پارلمان ښځینه غړیو څخه  احتساب وکړي.
په مدني ټولنه کې ښځې باید د هغه ښځو کاندیدانو مرسته وکړي او ورته کار وکړي چې د ښځو مسئلو حساسیت لري.

خپلواکه مدني ټولنه او میډیا

د "مدني ټولنه " د غیر حکومتي او په عمومي توګه د بې ګټو سیکتور څخه عبارت ده.  (بیا هم په ځینې تعریفونو کې تجارتي ټولنه او د میډیا مخرجونه شامل دي).
مدني ټولنه کې غیرحکومتي موسسې (NGOs) لکه ټولنیزې اداری، د سوداګرۍ اتحادیه، مسلکي ډلې، مذهبي او د مدافعوی ډلې شاملې دی. د هغه فعالیت تشریح هم کوي چې د حکومت او شخصي ښاریانو ترمینځه پیښیږي. مدني ټولنه د ډیموکراسي پرمختګ غوره ګڼي ځکه چې دا کولای شي د ښاریانود فکرونو نمایندګي وکړي. ټاکل شوي مامورین نفوسو ته احتساب ورکړي او د ډیموکراتیکی اداری تر نظر لاندې وساتي (د مدني ټولنې څېرکی وګوری).
د حکومت چلوونکو نظره  د NGOs د ثبتولو تر مخه  قانون او قانوني کړنلارې زیات ارزښت لري. په زیاتره حالتونو کې قانوني چوکاټ د خپلواکه NGOs د جوړولو په لار کې کله خنډ او د ټولنې حکومتي څارنې وسیله جوړه شي. په نورو مثالونو کې که قانون ډېر کمزوری وي نو دوی نه شي کولای د هغه ماهیتونو مخنیوی وکړي  چې غیر دولتی موسسې  د خپلو ګټو یا سیاسي فایدو لپاره جوړوي او فکرونو د خپرولو لپاره یې کاروي.

زیات شمېر  هېوادونه دولتي کنترول شوي رادیو او تلویزیون لري چې حکومت یې د خپلو پیغامونو او نظریو لپاره په کار اچوي. خو یوه ازاده رسنۍ د ښې اداري لپاره ډېره ارزښمنه ده. د مدني ټولنې ډلې او سیاسي ډلې باید د خپرونې ازادي ولري او د بندي کیدو یا فشار له وېرې پرته خپل معلومات او مفکورې خپرې کړي. د واقعاً یو ازاد مطبوعات لرل چې پر ټولو ګوندونو شکمن وي، فساد څرګند  کړي او د یوې یا بلې ډلې " نطاق " نه وي هم خطرناک دی. په هغو هېوادونو کې د اقتدار خوښوونکي رژیم  په لرلو سره یا د دموکراسۍ په لومړیو پړاونو کې، د معلومات وېشلو لپاره انټرنیټ ډېر زیات استعمال لري. د مدنې ټولنې په څېر، قانون اداره شوې رسنۍ او د ازادې رسنۍ خوندي ساتنه ډېره مهه ده او په لومړی پړاو کې باید  وده  وکړي.

د قانون د سلطی  درناوی د دموکراسۍ یوه بله غوره ستن ده. د دې معنی دا ده چې هماغه اساسي قانون او قوانین هر څوک اداره او ساتي او ټول وګړي برابر دي. هغه یو  ازاد  قضایي سیستم ته اړتیا لري چې عادلانه او روڼ دی او نه پرېږدي حکومت استبدادي قدرت وچلوي.

مشروطه حکومت او قانوني حقونه:- د هېواد اساسي قانون د هغه بنسټ یا ستر قانون دی،  د هغه د کار قانوني چوکاټ دی. هغه باید د ټولو وګړو حقونه تضمین  کړي -  ښځې او نارینه – او د ثابتې دموکراسۍ د  ودې لپاره خطرناک دي. د دوی د مرکزی اهمیت له امله، مشروطه مسئلې او قانوني حقونه د دې کتابګوټي په جلا برخه کې په بشپړ ډول  په ګوته شوي دي.
قضایي  ازادي او بې طرفي: قضا د محکمو سیستم دی  چې قانوني جریانونه ګوري او د حکومت قضایي څانګه جوړوي. قضا باید دحکومت له نورو څانګو څخه آزاده وي  " که قضا ونشي کړای د قضیو په پرېکړو کې د قانون خپله بې طرفي وساتي، سلطه یې بې معنی وي او پر خلکو د حکومت اعتبار زیانمن کېږي. "  په ځانګړې توګه، ښځې په قضایي سیستم کې د ننګونې سره مخامخ کېږي. سربیره پر قانون او اساسنامې چې د ښځو پر ضد له تبعیض څخه کار اخلي، " فاسده قضایي کړنلاره او د "زړو  هلکانو" د شبکو خپور والې د ښځو لپاره دا ناشونې کوي په روښانه او پرانیستې طریقې قانوني جنګ وکړي[19] " په هر حال، ښځې کولای شي په قضایي سیستم کې د شاهدانو په حیث او  ناوړه استعمال په اړوند د شاهدي  ورکولو  له لارې مثبت رول ولوبوي.
ښځینه قاضیانو همدا رنګه د ملي او نړیوال قانون په وده کې مرسته کړې، په ځانګړې توګه په جنګ کې د جنس د جنایتونو په اړوند یې خپله دنده سر ته رسولې ده د پخوانۍ یوګوسلاویا لپاره په نړېوال جنایي محکمه کې، په هره قضیه کې چې د جنس د جنایتونو سبب (د ښځو او نارینه و پر ضد مرتکب شول ) ښځینه قاضیان پر خپلو ګدیو ناست وو ( د انتقالي قضاء څپرکې وګورئ) [20]

د فساد پر ضد : په حکومت کې فساد د عامه شتمنیو، پانګو یا د شخصي ګټو دفتر څخه ناوړه استفاده ده. په دې کې کړه وړه لکه اختلاس، ټکی او رشوت اخیستل د عامه خدمتونو په بدل کې شامل دي. اقتصادي پر مختګ ته په زیان رسولو سربېره، فساد ښې اداري ته هم زیان رسوي. "فساد په ټولټاکنو او قانوني هیئتونو کې " د پالیسۍ په جوړولو کې مسوولیت او استازیتوب کموي؛ فساد په قضا کې د قانون حاکمیت ځنډوي؛ او فساد په عامه اداره کې د خدمتونو د نا برابرۍ سبب کېږي. [21] " ډول ډول مطالعو څرګنده کړې چې ښځې د نارینه په تناسب کم په فساد اخته کېږي. د ښځو د سولې بوختیدلو پلټنې څرګنده کړه چې، په کمبودیا کې ، هغه ځای کې د فساد – ضد قانون نشتوالي د ښې اداري لپاره یو ګواښ دی، ښځې په مدني ټولنه او ښځینه سیاست پوهانو کې د فساد – ضد هڅو کې لار ښونکې وي، او څرګنده شوه چې ښځې له نرینه همکارانو څخه په فساد کې په ټیټه سطح ککړې وي.[22]

بشري حقونه: بشري حقونه اساسي حقوق او ازادۍ دي چې ټول انسانان د هغو مستحق دي. په بشري اساسي حقونو کې د ژوند کولو ازادی، خپلواکي، د فکر او څرګندونې آزادي او برابري د قانون په وړاندې شامل دي. د بشري حقونو درناوی او ساتنه، د لږکیو او ښځو حقونو په شمول، د هرې دموکراسۍ د بنسټ تیږه ده. د بشر د حقونو جهاني اعلامیه او د ملګرو ملتونو منشور د نړېوالو زیاتو وسیلو څخه یوازې دوه آلې دي چې اساسي او جهاني بشري حقونه تشریح کوي ( د بشر حقونو څپرکې وګورئ).
د ښځو پرضد د تبعیض د ټولو شکلونو  د له منځه وړلو د ۱۹۷۹ م کال تړون (CEDAW)  په مشخص ډول د ښځو بشري حقونه په ګوته کوي. په نړېواله سطح دا پېژندل شوې چې

د " تیري په شکل د ښځو پر ضد تبعیض، د بشر په حقونو کې یوه ستره ناحل شوې ستونزه ده، د بشر د حقونو په ټولوموضوعګانو کې نفوذ کوي [23] " حتی که نړیوال تړونونه منل شوي وي او ملي قانوني سیستمونه تش په نامه ښځې، دودیز قوانین، ټولنیز کړه وړه اوکلتوري کارونه خوندي وساتي، کولای شي پر بشري حقونو تیری وکړی.
د بشري حقونو د معیارونو مانیټور او دفاع کول د حکومتونو، اردو، سیاسي ګوندونو او د نورو عمل کوونکو مسوول ګڼلو ته اړتیا لري. زیاتره، مدني ټولنه یو مهم " څار" یا د مانیټور کولو رول لوبوی او د بشري حقونو د لوړولو لپاره خطرناک دی. په ټوله نړی کې ښځو NGO ګانې جوړې کړې چې د بشري حقونو تیري مانیټور کړي، ښځې د دوی د حقونو په اړوند وروزي او نړیوال معیارونه لوړ کړي ( د بشر حقونو ځېرکی وګورئ).

۳ – اداري پروګرامونه څوک ډیزاین او په کار اچوي؟
څرنګه چې اداره د ملي مقامونو مسوولیت ګڼل کېږي، ترجګړې وروسته، نړیوال عمل کوونکي زیاتره چټر سمبالوي چې د هغه لاندې نوي ملي جوړښتونه جوړېږي.
په ختیځ تیمور کې (۲۰۰۰ ) ، د ملګرو ملتونو هیئت د نوي دولت د اجرائیه قوې بشپړ سیستمونو، پارلمان او قضا سره د تاسیسولو مسوولیت په غاړه درلود. په کمبودیا کې ( په ۱۹۹۳ م کال کې پیل شو) ، UNTAC ( د ملګرو ملتونو انتقالي اداره) په اغېز من ډول یې د هېواد پر مخبیول پر غاړه وو، په داسې حال کې چې ملي مقاماتو تر اوسه یې خپل ظرفیت غښتلی کاوه او عملیاتي شتمنیو ته یې وده ورکوله، چې په کې اجرایوي او قانون جوړونکي څانګې هم شاملې وې. په افغانستان کې ( په ۲۰۰۱ م کال کې پیل شو)، د ملګرو ملتونو هیئت هڅه کوي د اداره کوونکو مقاماتو لپاره مرستندوی رول ولوبوي، خوپه حقیقت کې له ملي عمل کوونکو څخه زیات ظرفیت او سرچینې لري. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په هر هېواد کې د دوی د هیئت پالنه کوي، د ملګرو ملتونو قیمومیت ټاکي.
برسیره پر ملګرو ملتونو، سیمه ییزې موسسې لکه د شمالي اتلانتیک تړون موسسه (NATO) او په اروپا کې د امنیت او همکارۍ لپاره موسسه (OSCE) په له جګړې وروسته اداره کولو او د "ملي پیاوړتیایي " هڅو، په څانګړي توګه په بالکان کې ، بوختې شوې دي.

مرستندوی هېوادونه او د دوی دوه اړخیزې پر مختیایي نمایندګی دنړیوال پر مختګ لپاره دمتحده ایالتونو نمایندګي، دنړیوال پر مختګ لپاره د برتانیې اداره، کاناډایي نړیوال پر مختګ نمایندګي) زیاتره د دوی د نمایندګی له لارې (نړیوال NGO ګانې) ، دملي – سطحې دموکراسۍ سره مرسته او اداري هڅو پروګرامونه ډیزاین کوي. دوی د NGO ګانو، د مرستې او پر مختګ نمایندګیو په شمول، د ډول ډول نړیوالو او ملي ډلو سره په شریکه کار کوي. د دوی د لومړیتوب حق د مرستندویو هېوادونو د مینې او ګټو او همدا رنګه د خپلې اړتیاو په واسطه ټاکل کېږي. ( د مرستندویو هېوادونو په اړوند د زیات معلومات لپاره ترهګرۍ وروسته د بیا رغونې ځېرکې وګورئ.)
د ۱۹۹۰ لسیزو له نیمایي راهیسې د مدني ټولنې د ظرفیت په پیاوړولو کې زیاتې هڅې شوې څو په سیاسي مسئلو کې ونډه واخلي. په کمبودیا کې د ملګروملتونو نمایندګی لکه د ملګرو ملتونو پر مختیایي پروګرام او UNIFEM (د ښځو لپاره دملګرو ملتونو پانګه) د مدني ټولنې او NGO پر مختګ په سمبالولو کې فعال وو، خلک یې هڅول په سیاسي پروسو کې برخه واخلي او دموکراتیک ارزښتونه لوړ کړي. زیاتې NGO ګانې چې په هغه وخت کې جوړې شوې اوس هم خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي. ځینو کسانو چې د مدني ټولنې په سطحه یې د ملګرو ملتونو په نوښتونو کې برخه واخیسته، وروسته یې ټولټاکنه پر مخ بوتله او اوس لکه په پارلمان او د حکومت په جوړښتونو کې رسمي ملي اداره کول په غاړه لري.
په راوندا کې، د ښځو محلي مدني ټولنه، چې د چتر Pro-Femmes/Twese Hamwe- NGO په استازیتوب سره، د ملي حکومت په سطح یې یوه مشورتي پروسه په څانګړي توګه ښځې په اجرائیه او قانون جوړولو څانګو کې تاسیس کړه. په داسې حال کې چې ځیني نیوکه کوي چې مدني ټولنه دملي حکومت لخوا همکاري یا کنټرولیږي او دا مشورتي پروسه له ستونزو خالي نه ده، دغه سیستم د مدني ټولنې لپاره ځای سمبال کړي او د اداري په ټولو مسئلو کې، د وراندیز شوي قانون په شمول، مرسته کوي.

۴- په ښه اداره کولوکې د ښځو د ونډې اخیستلو په پر مخبیولو کې کومې نړیوالې پالیسۍ شته؟
ډیرې نړیوالې الی شته چې په ښه اداره کولو کې د ښځو بوختېدل اسانوي. درې مثالونه یې دلته فهرست شوي دي.

- د مدني او سیاسي حقونو په اړوند نړیوال تړون ( ۱۹۶۶، ۱۹۷٤ )

د مدني اوسیاسي حقونو په اړوند نړیوال تړون تدوین او د لاسلیک کولو، تقریب او د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې لخوا په ۱۹۶۶ م کال کې د لاسرسي لپاره پرانیستی وو او په ۱۹۷٤ م کال کې نافذ شو. د بشر حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دغه تړون مانیټور کوي. دریمه ماده بیانوي: د موجوده تړون لپاره د دولتونو موجوده ګوندونه ژمنه کوي چې د ښځو او نارینه و برابر حق چې په موجوده تړون کې د ټولو مدني او سیاسي حقونو په اړوند جوړ شوی، ډاډمن کړي [24]

- د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو ډولونو له منځه وړلو په اړوند (CEDAW) په ۱۹۷۹ کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې لخوا تدوین او د لاسلیک، تصدیق او منلو لپاره پرانیستل شو او په ۱۹۸۱ م کال کې نافذ شو. CEDAW د CEDAW د کمیټي لخوا د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر تر څارنې لاندې مانیټور کېږي. هغه د ښځو پرضد تبعیض لکه د هر څرګندوالي اېستنه یا محدودیت چې د جنس پر بنسټ جوړ شوی وي، چې د پېژندلو پر لغو کولو یا کمولو، یا خوشحالی یا د ښځو لخو تمرینول، د دوی له مدني حالت پرته، د نارینه او ښځو برابری پر اساس، د بشر حقونو، او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، کلتوري، مدني یا په تورو برخو باندې اغېزه کوي، تشریح کوي. [25] CEDAW د بشپړ، متن لپاره د کتابګوټي ضمیمې وګورئ.

- د ملګر ملتونو د امنیت د شورا پرېکړه – ۱۳۲۵ ( ۲۰۰۰ )

د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا پرېکړه ۱۳۲۵، چې د دې کتابګوټي په نورو برخو کې په بشپړ ډول تشریح شوې ( د نړیوالو پالیسو او قانوني میکانېزمونو په اړوند ځېرکی وګورئ.) په پرېکړه، د جګړې پرېکړه او له جګړې

وروسته بیا رغوونه کې د ښځو د ګډون په هکله ټینګار کوي. په مشخص ډول ، د امنیت شورا د د هغې د ۱۳۲۵ م کال په تدوین، " د [ښځو] د مساوي ګډون پر اهمیت او د امنیت او سولې ساتلو او لوړولو لپاره په ټولو هڅو کې د بشپړ بوختېدو او د دوی د جګړې د مخنیوي او پرېکړې کې د رول زیاتولو ضرورت [26] بیا تایید کړ.

**5- په ښه اداره کولو کې ښځې څرنګه مرسته کوي؟**

له ټولې نړۍ څخه شواهد څرګندوي چې ښځې په ښه اداره کولو کې هڅې سمبالوي. په جګړې وروسته هېوادونو کې :

- ښځو په ګوند، نژادي او د جګړې پر کرښو کې ائتلافونه تاسیس کړل. په راونډا کې ، ښځو د لومړي ځل لپاره په ګوند کې د سیاسي مشرانو مجلس د دوی د هېواد پارلمان کې جوړ کړ. نورو قانون جوړونکو له هماغه وخته خپله لاربښونه تعقیب کړه او د ګوند دمشرانو مجلسونه یې تاسیس کړل چې د عامو اندېښنو په اړوند بحث وکړي ( دنفوس مسئلې) ،د ګوند له غړیتوب پرته. په کمبودیا او بوسنیا کې ښځو همدغه شان میکانیزم ایجاد کړ چې له دودویزو ویشونکو کرښو څخه تېر شي.
- په مدني ټولنه او سیاسي ګوندونو کې ښځو د ښځو د شمول لپاره ( او لږکي، ځلمیان او کمزوري) په حکومت کې د برخې اخیستلو یا نورو وسیلو له لارې وکالت وکړ.
- په مدني ټولنه کې ښځې په حکومت کې د ښځو سره بوختې شوې( زیاتره د ښځو په وزارت او پارلمان کې)، مشورتي اړیکې او یو چینل د معلوماتو لپاره ایجادوي چې له فعالینو او د مدني ټولنې لاربښوونکو څخه هغو ښځو ته چې په حکومت کې د واک موقف ساتي، معلومات ولیږدوي.
- ښځې د ځایي او ملي ټاکل شویو لاربښوونکو سره پر هغو موضوعګانو چې ښځو ته اهمیت لري، بوختې شي. په راونډا کې، دساري په ډول، ښځو وکولای شول د میراث قانون بدل کړي چې اوس ښځې کولای شي له ملکیت څخه میراث واخلي. د نړۍ په نورو برخو کې، د ځمکې اصلاح ته د رسېدو لپاره، د ماموریت قوانین، د کورنۍ قانون او نورو مسئلو کې ښځو وکالت کړې دی.
- د ښځو اشتراک د بحث غوره برخې چې په دودیزه توګه ورته پاملرنه شوی نه ده. " د ښځو موضوعګانې " هغه یې بدلې کړې. د ساري په ډول، ، ښځې په لومړۍ – نژادي تبعیض شوې جنوبي افریقا کې دملي بحث دموکرات کولو کې د امنیت او دفاعي پالیسۍ په تجسم کې د بې امنۍ او د راتلونکي لپاره د لومړیتوب حق ورکولو کې بریالتوب تر لاسه کړ. جنوبي افریقا، د ښځو د مرستو له امله د " بشر د امنیت " د کار چوکاټ تدوین کړ چې د " نظامي امنیت" نژدې کېدو سره مخامخ وو.
- په کمبودیا کې ، د مثال په توګه، د ښځو د مدنې ټولنې فعالین د فساد – ضد هڅو کې د لاربښود په توګه کار کوي. په اسرائیل کې د ښځو د سولې ډله هره ورځ د بشر د حقونو د ناوړه استعمال په هکله خپل نظر څرګندوي.
- پلټنې ثابتوي چې په ټاکل شوي دفتر کې ښځې ، په ځانګړي ډول په محلي سطح، د وګړو اړتیاو ته ځواب ورکوونکې دي. دوی په پرېکړه کې سلا ورکوونکې دي او، ښایي د دې لپاره چې دوی له نژدې ځیر کېدنې څخه خبر دي، نو د خپلو وظیفو په سر ته رسولو کې لږ په فساد اخته کیږي.
- ښځې په مدني ټولنه او حکومت کې د ښځو تحفظ د نړېوالو وسیلو د تطبیق کیدلو کې پر شوې پر مختګ باندې نظر ساتي. په زیاتره هېوادونو کې ښځې ډېرې مخکې تللې دي. د مثال په توګه د CEDAW راپور ورکولو کې د صلحې او آزادۍ لپاره د ښځو نړېواله اتحادیه (WILPF) د خپل ویب سایټ www.peacewomen.org له لارې د UNSE د قرارداد 1325 تطبیق کېدنه تر نظر لاندې ساتي.

**6 - ستراتیژیکی عمل کول: سوله جوړونکې ښځې څه کولای شي؟**

1. په محلي او ملي کچه ښځې چمتو کول او دوی سره سلا کول تر څو یو مشترکه کړنلاره جوړه کړی یا د ښځو د بشري حقوقو او د نوروستونزو په اړوند یو واضحه څرګندونه وکړی. د نړېوالو او محلي ګوندونو د یو ځای کولو لپاره په کار واچوی او د ډاډمنولو لپاره چې دوی په خپلو پلانونو کې د جنس په اړوند سوچ او فکر شامل کړی دی.

د ټولټاکنو په وخت چې کومې مسئلې په نښه کیږي په هغې د ښځو او نارینه وو تر مینځ توپیر اثراتو د روښولو لپاره د جنس – حساس لنډیزونه مخ په وړاندې بوتلل

2. په محلي او ملي کچه د سیاسي دفتر لپاره کاندید کولو په لړ کې د ښځو روزنه او دوی سره لیدل. په ټولو مسئلو کې د هغو ګډون تشویقول او هغوی ته دا ښودل چې د ښځو رایې ورکول ارزښت لري. د داسې ښځو ډله په ګوته کول چې څوک ملي سیاسي ډګر ته د ننوتو استعداد لري. د دوی د هنرونو په پیاوړولو کې دوی سره مرسته وکړی او د ګډون وکالت وکړی.
3. سیاسي ګوندونو کې شامل یا هغه ګوندونو سره یو ځای کېدل کوم چې دا غواړي:
   - دوی ښځې دګوند په مشرۍ کولو کې شاملوی.
   - د ښځو د ګډون لپاره دوی په خپل ګوند کې ونډی په کار اچوی.
   - د ښځو د حقوقو او برابرتیا لپاره د ګوند اجنډا لري.
4. دډاډمنولو لپاره چې د ښځو په اړوند مهمې مسئلې په اجنډا کې شاملیدی د ټاکل شوو مامورینو په شمول د انتخابي کمیسون سره لیدل او دوی یو ځای کول.
   - د ښځو لپاره درایې ورکولو د زده کړې پروګرامونو تنظیمول.
   - د ښځو د سیاسي ګډون په لاره کې د خنډونوپه ګوته کول دټولټاکنو په شمول ؛ او. ټاکل شویو مامورینو ته

ټاکل شویو مامورینو ته جنس – حساسه روزنه سمبالول

5. مدني ټولنې سره د سلا او مشورې لپاره د ټاکل شویو ښځو مامورین تشویقول چې یوه غونډه جوړه کړي، د سیاسي هدفونو تر لاسه کول او په پارلمان کې د ښځو د سیاسي غونډې د پر مختګ تشویقولو لپاره د ګوند ښځینه غړو او سیاستووالو غونډې ته رابلل.

6. راییٍ او نورو ښځو ته د رايې ورکولو اهمیت تشریح کول او د رايې ورکولو د پوهنې کامپاین بر مخبیول.
7. د جنس په فکر په هېواد کې د ټولو قانونو او بودیجو بیا کتنه چې ولیدل شي ایا دوی ښځې د ځان سره شاملوي او د ښځو اړتیاوې په ګوته کوي. په تجویز شوې قانون جوړیدو کې د ښځو فکرو نظر راغونډول او د هغې لپاره مرسته غوښتل او د هغو نظریې د ملې کچې واکوالو او بسپنه ورکوونکو هېوادونو ته وړاندې کول.
8. د ښځو د حقوقو دموجوده قانون ټینګولو او د تطبیقولو د کار پر مخ بیولو څارنه کول د اساسي قانون په لیکلو کې د ښځو د برابرتیا د نړېوالو معیارونو او اندازو د شاملولو وکالت کول.
9. د ټولټاکنو د کړنلارو بیا کتنه او د لارښود او د هغه پروسو وکالت کول ( د مثال په توګه د رايې ورکوونکو وړتیا او د ثبتولو او رايې ورکولو کړنلارې) چې د ښځو لپاره ټولټاکنې زیات دیموکراتیک او زیات لاس ته راوړونکې کوي ټولټاکنو باندې څارنه لرل.
10. لویې او مهمې ورځپاڼې، رسالې یا د رادیو پروګرامونه کارول چې خلک پوه کړی او دوی د خپل مسولیتونو او حقوقو په هکله خبر کړی او د ښځو مسئلې په ګوته کړی.

**زیات معلومات چرته پیدا کولای شئ؟**


**بالینګټن، جولي او ریچارډ اي ماټلنډ. " سیاسي ګوندونه او ټولنیز اقدامات: په ټولټاکنو پروسو کې د ښځو برخه اخیستل" . په جګړې وروسته هېوادونو کې په ټولټاکنو پروسو کې، د ښځو د بشپړ برخې اخیستلو زیاتول. نیویارک : AGI ، ۲۰۰٤ د ۲۰۰٤ م کال د سپتمبر ٦**
<http://www.un.org/womenwatch/osagi/meetings/2004/EGMelectoral/EP8- BallingtonMatland.PDF>.

د ښځو لپاره د ونډو جهاني ډیټابیس : <http://www.quotaproject.org/>.

نیو یارک – د مدني او سیاسي حقونو په اړوند نړیوال تړون: د ملګرو ملتونو عمومي غونډه ، ۱۹۷٦
د۲۰۰٤ م کال د سپتمبر ٦ مه <http://www.unhchr.ch/html/menu3/b/a_ccpr.htm>.
میک ګرو، لاروا، کاټي فریسن، او سمباث چان، ځمکې ښه اداره کول: تر جګړې وروسته کمبودیا کې د ښځو رول. واشنګټن ډي سي: د ښځو برخې اخیستنې سوله ، ۲۰۰٤ . د ۲۰۰٤ م کال د سپتمبر ٤ مه د <http://www.womenwaging
peace.net/content/articles/Cambodiafullcasestudy.pdf

پاولي، الیزابیث. د اداره کولو پیاوړتیا: د راونډا په انتقال کې د ښځو رول. واشنګټن ډي سي: د ښځو دبرخې اخیستنې سوله ، ۲۰۰۳ . د ۲۰۰٤ م کال د سپتمبر ٤ مه http://www.womenwagingpeace.net/content/articles/rwandafullcasestudy.pdf

تر جګړې وروسته هېوادونو کې په ټولټاکنو پروسو کې د ښځو بشپړ ګډون:
http://www.un.org/womenwatch/osagi/feature/postconflict/index.htm

په سیاست کې د ښځو د برخې اخیستو په اړوند سرچینې: http://www.cld.org/wipdbfpart.htm

" ښه اداره کول څۀ شی دی؟ " بنګکاک : د اسیا او پسیفیک لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیز کمیسون ، n.d د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر ٦ مه <http://www.unescap.org/huset/gg/governance.htm>.

په پارلمان کې ښځې. د نمرو ها خوا. ستاکهولم، سویډن: د دموکراسۍ او ټولټاکنې مرسته، ۱۹۹۷ د ۲۰۰٤ کال د سپتمبر ٦ مه <http://www.idea.int/women/parl/toc.htm>.

ښځې ، سوله او د امنیت سرچینه: اداره کول او ټولټاکنې :
http://www.peacewomen.org/resources/governance/governanceindex.html>.

ښځې، جنګ، سوله او ټولټاکنې. نیویارک: د ښځو لپاره دملګرو ملتونو پر مختیايي پانګه ، ۱۰۰٤ د ۲۰۰٤ م کال د جولای ۸ مه
<http://www.womenwarpeace.org/issues/elections/election.htm>.

**مخففونه**

| | |
|---|---|
| CEDAW | د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو ډولونو په اړوند تړون |
| EMBs | د ټاکنې د ادارې هیئت |
| IPU | د پارلمان – دننه اتحادیه |
| NATO | شمالي اتلانتیک تړون موسسه |
| NGO | غیر دولتي موسسه |
| NIWC | شمالي ایرلینډ د ښځو ائتلاف |
| OSCE | په اروپا کې د امنیت او همکارۍ لپاره موسسه |
| PR SYSTEMS | متناسب استازیتوب سیستمونه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام |
| UNIFEM | د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پر مختیایي پانګه |
| UNSC | د ملګرو ملتونو د امنیت شورا |
| UNTAC | په کمبودیا کې د ملګرو ملتونو انتقالي اداره |
| WFP | د سوکالۍ لپاره ښځې |
| WILPF | د سولې او ازادۍ لپاره د ښځو نړیوال اتحاد |

**د پای یادونې**


1. " د ۲۰۰۳ په پارلمان کې ښځې: نارډک او د شخړې ځخه وروسته هېوادونه په سر کې دي". بین الپارلمانی اتحادیه ۱ مارچ ۲۰۰٤ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.ipu.org/press-e/gen183.htm
2. Ibid
3. "د حکومت ښه چلول څه ته وایي" د آسیا او پیسیفیک لپاره د UN اقتصادی او ټولنیز کمیسیون n.d ٦ سپتمبر ۲۰۰۳ http://www.unescap.org/huset/gg/governance.htm
4. " د حکومت د چلولو خاصیت اندازه کول" نړیوال بانک ١٤ جولای ۲۰۰۳ – ٦ سپتمبر ۲۰۰۳ http://web.worldbank.orgwbsite/external/news/0contentmdk:20119698~menupk:34457~pagePK:34370~piPK:34424~thesitepk:4607,00.html
5. د شخړې ځخه وروسته هېوادونو بیا ودانې پروژه . د مثال په توګه " ښه حکومت کول او ګډون" د شخړې ځخه وروسته پر مختګ زمونږ د ځلورو ستنو ځخه یوه مهمه ستن ده. نور چې په دغه چوکاټ کې په ګوته شوې دي هغه امنیت، انصاف او روغه جوړه او ټولنیز او اقتصادی وده ده.
6. درې ځلیز رایې ورکولو تخنیک په هکله د زیات بشپړ تشریح لپاره د پاولې الیزابتهـ " حکومت چلول پیاوړی کول " وګورئ. د رواندا په انتقال کې د ښځو رول . واشنګټن دي سي. ښځې صلح منځته راوړي ۲۰۰٤ ۲۰ جولای ۲۰۰٤

http://www.womenwagingpeace.net/content/articles/RwandaFullCaseStudy.pdf .

7. د سیاسي ګوندونو پر مختګ ۲۰۰۳ د نړیوالو چارو ملی دیموکراتیک اداره ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.ndi.org/globalp/polparties/polparties.asp
8. د مک ګریو، لاروا، کیټ فرسین او سبمتهـ چن د متن ځخه اقتباس، د لاندینی ځخه دحکومت ښه چلول: د شخړې نه وروسته په کمبوډیا کې د ښځو رول . واشنګټن ډي سي ښځې سوله مینځ ته راوړي ۲۰۰٤ - ٤ سپتمبر ۲۰۰٤

http://www.womenwagingpeace.net/content/articles/CambodiaFullCaseStudy.pdf

9. د ښځو لپاره د ونډو نړیوال دیتابیس http://www.quotaproject.org
10. په http://www.un.org/womenwatch/osagi/feature//postconflict ویب سایټ د جنس د معاملو او د ښځو د پر مختګ د عمومس سکرتر ستر سیکرتر د UN خانګرې سلا کار دفتر په دې موضوع د منابعو مهم ترکیبونه سمبالوي.
11. د شخړې نه وروسته هېوادونو کې په انتخابي پروسو کې د ښځو بشپړ ګډون زیاتول – نیویارک ، OSAGI ۲۰۰٤ ٥ اکتوبر ۲۰۰٤ http://www.un.org/womenwatch/osagi meetings/2004/EGMelectoral/FinalReport.PDF
12. زیاتره سپارښتنې د OSAGI د کانفرانس د پای د راپورونو ځخه کار اخستل شوی دی د شخړې نه وروسته هېوادونوکې په انتخابي پروسو کې د ښځو بشپړ ګډون زیاتول.
13. بینګټن – جولي د رایې ورکوونکو د زده کړې له لارې د ښځو ګډون تشویقول. http://www.un.org./womenwatch/osagi/feature/postconflict/BallingtonEtAl.pdf
14. بینګټن، جولي او رچرډ اې میټ لینډ ز " سیاسي ګوندونه او خانګړې اندازې : په انتخابي پروسو کې د ښځو ګډون زیاتوي. د شخړې وروسته هېوادونوکې په انتخابي پروسو کې د ښځو بشپړ ګډون زیاتوی نیویارک OSAGi 2004 ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.un.org/womenwatch/osagi/meetings/2004/egmelectoral/ep8-ballington
15. بینګټن او میټ لینډ
16. په http://www.idea.int/omen/parl/ch4b.htm ویب سایټ باندې نړیوال IDEA د ونډو په هکله بشپړ معلومات لور موجود منابعې لري .
17. بینګټن او میټ لینډ
18. د قضایي خپلواکۍ او بې طرفی پر مخ بیولو لپاره لارښونه واشنګټن د ي سي ، یو سید ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.usaid.gov/our_work/democracy_and_governance/publications/pdfs/pnacm007.pdf
19. ښځې او فساد، صوفیه ، بلغاریا: د فساد ضد په لیکه ، ۲۰۰۰ ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.anticorruptiononline.org/jenite.html
20. میرتس، جولي ، د پخوانی یوګوسلاویه لپاره په نړیوال جنسي ترابیونل کې د ښځو ګډون (ICTY) د بوسنیا او هرزیګوینا لپاره انتقالي قضا. واشنګټن DC . ښځې سوله راوړی. ۲۰۰٤ . ۲٥ اګست ۲۰۰٤ http://www.womenwagingpeace.net/content/articles/bosniafullCaseStudy.pdf
21. د فساد سره جنګ. واشنګټن ډي سي USAID . n.d ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.usaid.gov/our_work/ democracy_and_governance /technical_areas/anti-corruption
22. مک ګریو، فریس، جان. د لاندې نه د حکومت ښه چلونه، له شخړې نه وروسته په کمبوډیا کې د ښځو رول . واشنګټن ډي سي . د ښځو سولې مینځ ته راوړلو د پالیسی کمیسیون، ۲۰۰٤ – ٤ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.womenwagingpeace.net/content/articles/CambodiaFullCaseStudy.pdf
23. د ښه حکومت چلولو او په کډه د پر مختګ DAC پیژندنې – پیرس OECD1993 - ١٣ – ٦ سپتمبر ۲۰۰٤ http://www.acdi-cida.gc.ca/INET/IMAGES.NSF/vLUImages/HRDG/$file/Dac-e.pdf

24. د مدني سیاسي حقونو نړېوال تړون . نیو یارک UN عمومي غونډه . ۱۹۷٦ . ٦ سپتمبر ۲۰۰٤
http://www.unhchr.ch/html/menu3/b/a_ccpr.htm

25. د ښځو په ضد د هر ډول تبعیض د مینځه وړلو نړیوال کنونشن نیویارک د UN عمومي غونډه ، ۱۹۸۱ ـ ٥ ستمبر ۲۰۰٤
په http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw
CEDAW کي د بدلون راوستونکو هېوادونو فهرست
http://www.unhchr.ch/html/ menu3/b/e1cedaw.htm تر لاسه کولي شی.

26. تړون ۱۳۲٥ ـ نیویارک UN د امنیت شورا ۲۰۰۰ ٦ سپتمبر ۲۰۰٤
http://ods-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N00/720/18/PDF/N0072018.pdf?OpenElement